Community Resilience
to Foreign Interference

# بهرني هېواد ته سفر او بهرنۍ لاسوهنې

بهرني هېواد ته د سفر پر مهال، ځينې کسان ښايي د بهرنيو چارواکو، له هغې جملې د هغوی د امنيتي او استخباراتي ادارو له خوا د لا زياتې څارنې او پلټنې سره مخ شي، چې دا کار د بهرنيو لاسوهنو برخه کېدای شي.

اړينه ده چه په ياد ولرئ چې ډېر مسافر به ښايي داسي څه تجربه نه کړي او په سرحدونو کې پلټنې او څارنه په ټوله نړۍ کې يو عام، معمولاً نورمال او ډېر وختونه له بهرنيو لاسوهنو سره ناړونده کار دی.

**هغه کسان چې ښايي د بهرنيو لاسوهنو په تړاو له لا زياتې پلټنې او څارنې سره مخ شي، لاندې کسان پکې شامل دي:**

- هغه کسان چې په نيوزيلنډ کې په نښه شوي وي
- د ټولنې هغه غړي چې د بهرنيو هېوادونو په وړاندې د مخالفو يا نيوکه کوونکو ليدلورو په لرلو پېژندل کيږي
- د ټولنې مشران، مدافعين او فعالان
- د ټولنې هغه غړي چې د کورنيو، ټولنيزو يا کاري لاملونو له امله سفر کوي
- د ټولنې هغه غړي چې د نيوزيلنډ حکومت يا سيمه ييزو شوراګانو لپاره کار کوي، او يا په نيوزيلنډ کې انتخابي بستونه لري
- د ټولنې هغه غړي چې په نورو کليدي برخو، لکه حياتي زېربناوو، لوړو زده کړو او رسنيو کې فعاليت لري
- پخواني کډوال.

**د مقصد هېواد په پام کې نيولو سره، کسان ښايي له بېلابېلو خطرونو سره مخ شي، له هغې جملې:**

- **په ځينو مواردو کې،** سيمه ييز چارواکي ښايي کسان بې له کوم روښانه دليله د هغوی د سفر د پلانونو، فعاليتونو يا اړيکو په اړه تر پوښتنو ګروېږنو لاندې ونيسي
- **کېدای شي د کسانو د ننوتلو يا وتلو مخنيوی وشي،** لکه الوتکې ته له پورته کېدو يا د سرحدي تېرېدونکو لارو څخه له ننوتلو منع کول
- **ښايي د سفر يا ويزې په برخه کې محدوديتونه ولګول شي،** لکه د هېواد په دننه کې د تګ راتګ محدودول
- **برېښنايي وسايل لکه ټيليفون،** ليپټاپ يا نورې وسيلې ښايي وپلټل شي او همدا راز ښايي پدې پروسه کې شخصي معلومات يا ليکلي پيغامونه هم وڅېړل شي
- **له ننوتلو وروسته کسان ښايي تر هدفي څارنې، توقيف يا بند لاندې راشي،** چې پدې کې رسمي قضايي اقدامات هم شاملېدای شي
- **کسان ښايي د سيمه ييزو** چارواکو له خوا له وېرولو، ځورولو يا ګواښونو سره مخ شي
- **کسان ښايي نه يوازې د نظامي بنسټونو يا رسمي چارواکو له** خوا، بلکې د سيمه ييزو ډلو له خوا هم تر پوښتنو، ځورونې يا ګواښ لاندې راشي.

## د نيوزيلند قونسلي مرسته

د بهرنيو چارو او سوداګرۍ وزارت (MFAT) په بهر کې د نيوزيلنډ د وګړو لپاره کونسلي خدمات وړاندې کوي، حتی که هغوی

معمولاً په نیوزیلنډ کې ژوند هم نه کوي.

قونسلي مرسته عموماً د نیوزیلنډ دایمي اوسېدونکو ته نه وړاندې کېږي.

په بهر کې د نیوزیلنډ اتباع مکلف دي چې د کوربه هېواد قوانین رعایت کړي، پدې کې د توقیف، قضایي تعقیب یا د تګ راتګ د محدودیتونو اړوند مقررات شامل دي.

## دوه ګوني تابعیت لرونکي

د دوه ګوني تابعیت لرل ښایي د کونسلي خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې د نیوزیلنډ پر وړتیا اغېز وکړي, کله چې یو څوکت د خپل دویم تابعیت په هېواد کې شتون ولري، سیمه بیز چارواکي ښایي هغه یوازې د هماغه هېواد د وګړي په توګه وګڼي او د نیوزیلنډ د مداخلې مخنیوی وکړي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د SafeTravel وېب پاڼې مراجعه وکړئ: [د دوه ګوني تابعیت او دایمي اقامت لرونکو کسانو برخې ته]

## کډوال او پخواني کډوال

که چېرې تاسو د کډوال په توګه له نیوزیلنډ څخه بهر شتون لرئ، د هغه ملاتړ کچه چې د نیوزیلنډ حکومت یې تاسو ته وړاندې کولای شي، په دېام وړ توګه محدوده وي.

د لا زیاتو مالوماتو لپاره د SafeTravel وېب پاڼې مراجعه وکړئ: [د کډوالو او پخوانیو کډوالو برخې ته]

## SafeTravel NZ

[د SafeTravel NZ] د بهرنیو چارو او سوداګرۍ وزارت رسمي وېب پاڼه ده د نیوزیلنډ د هغو اتباعو لپاره چې بهر ته سفر کوي یا هلته مېشت دي، او هغوی ته د سفر مشورې، کونسلي خدمات، د خوندیتوب سپارښتنې او د مسافرینو د نوم لیکنې سیستم وړاندې کوي.

مسافر باید بهر ته له تګ مخکې د **SafeTravel New Zealand** په وېب پاڼه کې [نوم لیکنه] وکړي, دا کار د بهرنیو چارو او سوداګرۍ وزارت سره مرسته کوي ترڅو په خپل وخت معلومات ورسوي، د اړتیا پر مهال له مسافرینو سره اړیکه ونیسي او تر ممکنه بریده مرسته چمتو کړي.